مجله علمی بین المللی سلام
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage* https://journal.salam.edu.af
لسم کال، شمیره ۱۸، منی، کال ۱۴۰۴ هـ ش

# د اسلامي امارت او هند اړیکې؛ فرصتونه او ننګوني

څېړنوال عبدالصبور مبارز[1]

DOI: 10.64104/v10.Issue18.n5.Fall.2025

ISSN 3078-9575 (Print)
ISSN 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر ۱۴۰۴/۱۱/۳۰
تعداد صفحات ۱۷
از صفحه ۱۴۴ تا ۱۶۱

**لنډیز**

د دې څېړنې له لارې له ۲۰۲۱ز.کال وروسته د اسلامي امارت او هند اړیکې څېړل کېږي او هڅه کېږي چې په دغو اړیکو کې شته فرصتونه او ننګونې روښانه شي. د څېړنې موخه، د اسلامي امارت او هند د اړیکو څېړل او په دغو اړیکو کې د شته فرصتونو او ننګونو رابرسېره کول دي. د څېړنې پوښتنه دا ده چې د افغانستان اسلامي امارت او هند اړیکې له کومو ننګونو سره مخامخ دي او هغه کوم فرصتونه دي چې دغه اړیکې رغولی شي؟ په دې لیکنه کې د څېړنې له توصیفي- تحلیلي مېتود او د موادو په راټولولو کې له کتابتوني ډول څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د څېړنې موندنې ښايي چې، له تاریخي پلوه د اسلامي امارت او هند اړیکې ښې نه دي پاتې شوي او په ۲۰۲۱ز.کال کې د افغانستان اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته تر ۲۰۲۵ز.کال پورې هم دغه اړیکې نږدې نه وې، خو په ۲۰۲۵ز.کال کې د اسلامي امارت او پاکستان د اړیکو د خرابېدو وروسته، دغه اړیکې ښې او نږدې شوې. د اسلامي امارت او هند په اړیکو کې د پاکستان سره د اسلامي امارت د اړیکو خرابوالی، د هند او افغانستان دوه اړخیزې اقتصادي اړتیاوې، ګډې سیمه ییزې پروژې او د روسیې سره د دواړو هېوادونو ښې اړیکې هغه فرصتونه دي چې دغه اړیکې لا پیاوړې کولای شي. همدارنګه د هند او اسلامي امارت خرابې تاریخي اړیکې، د هند امنیتي اندېښنې، په افغانستان کې د چین د پام وړ پرمختګ او نفوذ او د نړیوالې ټولنې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندنه، هغه ننګونې دي چې په دغو اړیکو کې موجودې دي.

**کلیدي کلیمې:** اسلامي امارت، هند، دوه‌اړخیزې اړیکې، فرصتونه، ننګونې

---

[1]. د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز علمي غړی دی. 0093788490472، ab.Saboor405@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.

## سریزه

هند او افغانستان ګډه پوله نه لري، خو د دواړو هېوادونو ترمنځ تاريخي اړيکې شتون لري، چې په فرهنګي، سوداګريزو او ډيپلوماتيکو بنسټونو ولاړې دي. له تاريخي پلوه هند له برېتانيا څخه د خپلواکۍ اخيستلو وروسته په لومړي ځل په ۱۹۵۰ز.کال کې له افغانستان سره د سياسي اړيکو د ټينګولو په موخه د «ملګرتيا تړون» لاسليک کړ.[2] د سړې جګړې په وروستۍ لسيزه کې کله چې شوروي اتحاد پر افغانستان يرغل وکړ، د هند د هغه وخت حکومت، د مجاهدينو خلاف د شوروي اتحاد ملاتړ وکړ او د نور محمد تره کي، حفيظ الله امين، ببرک کارمل او ډاکټر نجيب الله په دورو کې يې له کابل سره ښې اړيکې درلودې، خو د مجاهدينو په دوره کې دغه اړيکې سړې وې. همدارنګه د اسلامي امارت د لومړنۍ واکمنۍ پرمهال، هند خپلې هر ډول ډيپلوماتيکي اړيکې او ملاتړ له افغانستان سره په دې دليل پرې کړ چې طالبان يې په پاکستان کې روزل شوې ډله ګڼله او په دې عقيده وو چې پاکستان غواړي په کشمير کې د جنګېدونکو ډلو لپاره په افغانستان کې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې پټنځايونه او ملاتړ برابر کړي. له همدې کبله يې په دې دوره کې له شمالي اتحاد سره همکاري کوله. کله چې په ۲۰۰۱ز.کال کې د اسلامي امارت واکمني پای ته ورسېده، هند بېرته په عاجل ډول له افغانستان سره اړيکې ټينګې کړې؛ لومړی يې په کابل کې خپل سفارت او ورپسې يې په مزارشريف، جلال اباد، هرات او کندهار کې کونسلګرۍ پرانېستې او له افغانستان سره يې ډيپلوماتيکي اړيکې يو ځل بيا ټينګې کړې.[3]

د تېر شل کلن جمهوريت پرمهال په اقتصادي برخه کې له افغانستان سره د مرستې له اړخه، هند د نړۍ پينځم او د سيمې په کچه لومړی لوی مرسته کوونکی هېواد ګڼل کېږي، چې په دغو مرستو کې د ابتدايه ښوونځيو شاګردانو سره غذايي مرسته، د ښوونځيو بيارغولو او جوړولو په برخه کې نږدې ۳۲۱ ميليونه ډالره مرسته، د دوه لکه او پنځوس زره ټنو غنمو مرسته، له پلخمري څخه تر کابل پورې د ۱۲۰ ميليونو ډالرو په لګښت د برق لاین تېرول، د ۱۳۰ ميليونو ډالرو په لګښت د سلما بند جوړول، د ۲۷ ميليونو ډالرو په لګښت د افغانستان د پارلمان ودانۍ جوړول، د ۱۵۰ ميليونو ډالرو په لګښت د زرنج- دلارام سرک جوړول، د حبيبيې لېسې جوړول، د افغان پوليسو او ملي اردو عسکرو روزنه او د تعليم په برخه کې د ګڼو سکالرشپونه او فيلوشپونو ورکړه شامله ده.[4] له ۲۰۰۱ز.کال راهيسې نږدې ۱۰۰ هندي شرکتونو په افغانستان کې پانګونه کړې، چې له ډلې يې ۴۳ سلنه په خدماتي برخه کې، ۴۱ سلنه يې په ساختماني چارو کې او ۱٦ سلنه يې په نورو برخو کې ده.

هند له اسلامي امارت سره په لومړنۍ واکمنۍ کې ښې اړيکې نه درلودې او کله چې له ۲۰۲۱ز.کال وروسته اسلامي امارت بياځلي پر افغانستان واکمن شو، نو په اوايلو کې يې يوازې د بشري مرستو په موخه اړيکې ټينګې کړې او د مستقيمو او رسمي اړيکو له ټينګولو څخه يې د ځينو امنيتي اندېښنو له امله ډډه وکړه او د څار او انتظار پاليسي يې تعقيبوله، خو کله چې يې وليدل چې له يوې خوا د سيمې اکثرو هېوادونو له اسلامي امارت سره مستقيم تعامل ته مخه کړې او له بلې خوا د افغانستان-پاکستان مستقيمه جګړه هم رامنځته شوه، نو هڅې يې پيل کړې چې له اسلامي امارت سره مستقيم تعامل پيل کړي. پر کابل د پاکستان له بريد وروسته، هند په ۱۴۰۴ هـ.ل. کال کې د اسلامي امارت د بهرنيو چارو او سوداګرۍ وزيرانو ته بلنه ورکړه

---

[2] Raghav Sharma, India & Afghanistan: Charting the Future, Institute of Peace and Conflict Studies, 2009, P.1, Access Date: 28/DEC/2020, Available at: http://www.jstor.com/stable/resrep09279

[3] Ibid.

[4] Gareth Price and Chatham House, India's Policy towards Afghanistan, Chatham House, August 2013, P.4-5, Access Date: 28/DEC/2020, Access link: https://www.chathamhouse.org/sites/default/files/public/Research/Asia/0813pp_indiaafghanistan.pdf

چې له هند څخه ليدنه وکړي، له دغو ليدنو وروسته هند په افغانستان کې خپل سفارت پرانيست او مستقيم تعامل پيل شو چې له امله يې اړيکې هم ښې شوې. هند له تاريخي، کلتوري، اقتصادي او سياسي پلوه له افغانستان سره نږدې اړيکې لرلي دي او په اوسنيو حساسو شرايطو کې چې له يوې خوا افغانستان له سياسي انزوا سره مخامخ دی او له بل پلوه يې ځينو ګاونډيو سره اړيکې هم ښې نه دي، له هند سره د اړيکو پياوړتيا مهمه ده او د موضوع همدې اهميت ته په کتو دغه مقاله ليکل شوې ده. د څېړنې موخه، د اسلامي امارت او هند د اړيکو څېړل او په دغو اړيکو کې د شته فرصتونو او ننګونو رابرسيره کول دي. د څېړنې پوښتنه دا ده چې د افغاستان اسلامي امارت او هند اړيکې له کومو ننګونو سره مخامخ دي او هغه کوم فرصتونه دي چې دغه اړيکې رغولی شي؟ په دې څېړنه کې د څېړنې له توصيفي- تحليلي **مېتود** او د موادو په راټولولو کې د څېړنې له کتابتوني ډول څخه ګټه اخيستل شوې ده.

### د څېړنې تيوريکي چوکاټ

په دې څېړنه کې د ساختاري رياليزم (*Structural Realism*) له تيورۍ څخه ګټه اخيستل شوې ده. د ساختاري رياليزم تيوري په ۱۹۷۹ز. کال کې کېنت والتز (*Kenneth Waltz*) وړاندې کړه او دې ته ځکه ساختاري رياليزم( *Structural Realism*) وايي چې د دې تيورۍ پر بنسټ نړيوال ساختار يا نړيوال نظام کې انارشي ده، يعنې په نړيواله سطحه داسې يو واحد دولت يا قدرت نشته چې هغه پر ټولو دولتونو حاکم وي او دولتونه پر يو او بل له تيري او بريد څخه وژغوري، نو په داسې يو نړيوال نظام کې هر دولت د خپل ځان څخه د دفاع مسؤليت لري او د همدغې دفاع لپاره دولتونه د قدرت د زياتولو او په نړيوال نظام کې د پاينښت لپاره له هر ډول وسايلو څخه کار اخلي تر څو خپل دښمن او سيال يا وځپي(*Offensive Realism*) او يا هم له هغه څخه د ځان دفاع وکړي(*Defensive Realism*).[5] ساختاري رياليزم، قدرت او په نړيوال نظام کې د پاينښت لپاره هڅې د دولتونو د اړيکو د رامنځته کېدو او يا هم نږدې کېدو لامل ګڼي او په دې برخه کې پر ارزښتونو، ايډيالوژيو او اخلاقو باور نه لري.

که د دې تيورۍ په چوکاټ کې د هند او اسلامي امارت اړيکې وڅېړو، نو معلومېږي چې وروستۍ دوه اړخيزې اړيکې د ارزښتونو او ايډيالوژيو په چوکاټ کې نه، بلکې د دواړو لوريو د ملي ګټو په نظر کې نيولو سره رامنځته شوې دي. هند د اسلامي امارت له ايډيالوژۍ او ارزښتونو سره مخالف دی او له همدې امله يې په لومړۍ دوره کې هر ډول ډيپلوماتيکې اړيکې ورسره پرې کړې او په دويمه دوره کې يې هم لومړنيو څلورو کالونو کې ورسره مستقيم تعامل ونکړ، خو له پاکستان سره له جګړې، په افغانستان کې د چين د نفوذ پراختيا او د روسيې له لورې د اسلامي امارت له رسميت پېژندنې وروسته هند داسې فکر وکړ چې که له اسلامي امارت سره رسمي اړيکې رامنځته نه کړي، نو د سيمې توازن به د هند پر ضد وڅرخېږي او په سيمه کې د قدرت د ساتلو په موخه اړينه ده چې د افغانستان په څېر غوره جيوپولټيک موقعيت لرونکي هېواد سره اړيکې ټينګې کړی شي. اسلامي امارت هم له يوې خوا د سياسي انزوا څخه د راوتلو او له بلې خوا د پاکستان سره د اړيکو د خرابېدو له امله اړ شو چې هند ته مخه کړي. دغه دوه اړخيزې ګټې د دې لامل شوې چې د دواړو هېوادونو اړيکې سره نږدې شي.

[5] Mearsheimer, John J." International Relations Theories: Discipline and Diversity", Commack Schools, 2007, Pp. 72-73, Access link: https://www.commackschools.org/Downloads/8_mearsheimer-_structural_realism.pdf

**له ۲۰۲۱ز.کال وروسته د اسلامي امارت او هند اړیکو ته کتنه**

له تاریخي پلوه د اسلامي امارت او هند اړیکې ښې نه دي پاتې شوي، د اسلامي امارت په لومړنۍ دوره کې یې له افغانستان سره هر ډول ډیپلوماتیکې اړیکې پرې کړې، په تېر شل کلن جمهوریت کې یې د اسلامي امارت خلاف د افغان حکومت ملاتړ کاوه، خو کله چې په دوحه کې د اسلامي امارت او متحده ایالاتو مذاکرات نهایي پړاو ته ورسېدل او هند ولیدل چې د سیمې هېوادونه اسلامي امارت د افغانستان راتلونکی واکمن ګڼي او اړیکې ورسره ټینګوي، نو هند هم د اړیکو ټینګولو هڅې پیل کړې. په ۲۰۲۰ز.کال د سپتمبر په میاشت کې د هند بهرنیو چارو وزیر جی شنکر د لومړي ځل لپاره په دوحه کې د افغان مذاکراتي پلاوي او اسلامي امارت ترمنځ ترسره کېدونکي غونډه کې په انلاین بڼه ګډون وکړ.[6] له ۲۰۲۱ز.کال وروسته د اسلامي امارت او هند اړیکې په دوه پړاوونو ویشلی شو:

**د اړیکو لومړی پړاو:** کله چې په ۲۰۲۱ز.کال کې اسلامي امارت پر افغانستان واکمن شو، نو هند په لومړنیو څلورو کالونو کې د اسلامي امارت پر وړاندې د څار او انتظار پالیسي (*Watch and Wait Policy*) غوره کړه، د هند دې پالیسي ته ستراتیژیک صبر هم ویل کېږي، یعنې هند لومړی د اسلامي امارت پالیسي مطالعه کوي او کله چې د پالیسیو په اړه ډاډ ترلاسه کړي له هغې وروسته ورسره اړیکې ټینګوي. په دغو پالیسیو کې د هند لپاره دوه ډوله ډاډ مهم دی، یو دا چې د اسلامي امارت پالیسي خپلواکه ده او د پاکستان تر نفوذ او کنټرول لاندې نه ده او دویم دا چې په دغو پالیسیو کې د هند امنیتي ګټو ته ګواښ نه وي.[7] د دغه ډاډ د ترلاسه کولو تر وخت پورې هند د اسلامي امارت په اړه دوه ډوله ډیپلوماسي تعقیبوله: یو د بشري مرستو ډیپلوماسي او بله یې سیمه ییزه ډیپلوماسي وه.

د بېلګې په ډول، هند په ۲۰۲۱ز.کال کې له افغان ولس سره پنځوس زره میټریک ټنه غنمو، په ۲۰۲۲ز.کال کې پنځسوه زره دوزه د کرونا واکسینو، ۱۳ ټنه درملو[8] او ۵۰۰ عدده ژمني لباس مرسته وکړه. د دې ترڅنګ د هند حکومت د ۲۰۲۳-۲۰۲۴ کال بودیجه کې د افغانستان سره د مرستې په موخه بهرنیو چارو وزارت ته ۲۰ میلیونه هندي روپۍ ځانګړې کړې.[9] همدارنګه په ۲۰۲۲ز.کال په نیمایي کې هند په کابل کې خپل سفارت ته یو تخنیکي ټیم په دې موخه ولېږه تر څو د هند بشري مرستې له اسلامي امارت سره تنظیم کړي،[10] دې تخنیکي ټیم ځینې وخت د اسلامي امارت له مشرانو سره کتل او دې کار د دواړو هېوادونو پر اړیکو مثبت اغېز وکړ او د سیاسي اړیکو د پیاوړتیا په لاره کې یې ښه رول اداء کړ.

د اسلامي امارت پر وړاندې د هند بله پالیسي سیمه ییزه وه، په دې معنی چې هند نه غوښتل په یوازې ځان له اسلامي امارت سره اړیکې ټینګې کړي، بلکې په دې اړه د سیمې له هېوادونو سره په ګډه اقدام وکړي. له همدې امله، هند د اسلامي

---

[6] Sujan R.Chinoy. "The Policy of Zero Tolerance Towards Terrorism", DEC 2020, Dr. Syama Prasad Mookerjee Research Foundation, P. 6-26, Access Date: 8/AUG/ 2021, Available at: Indias-Policy-of-Zero-Tolerance-Towards-Terrorism.pdf

[7] Ravi Shankar Raj and Simant Shankar Bharti. "India's 'Wait and Watch' Diplomacy: Redefining Regional Engagement in South Asia", Institute for Security and Development Policy, May 26, 2025, Pp- 1-2, Access link: https://www.isdp.eu/wp-content/uploads/2025/05/Brief-Raj-Bharti-May-26-2025.pdf

[8] Ministry of External Affairs Government of India. "India's humanitarian assistance to Afghanistan", 2022, Access link: https://www.mea.gov.in/press-releases.htm?dtl/35381/Indias+humanitarian+assistance+to+Afghanistan

[9] Gaurav Kumar. "India and Afghanistan: Humanitarian Assistance as Development Partnership", The United Service Institute of India, 2023, Pp. 1-2, Access link: https://www.usiofindia.org/pdf/IndiaAndAfghanistanHumanitarianAssistanceAsDevelopmentPartnership.pdf

[10] Nayanima Basu. "India reopens embassy in Kabul, sends 'technical team' with relief material for Afghanistan", The Print, 2022, Access link: https://theprint.in/diplomacy/india-reopens-embassy-in-kabul-sends-technical-team-with-relief-material-for-afghanistan/1009400/

امارت په اړه په بېلا بېلو سيمه ييزو غونډو کې ګډون کړی او خپل ګډ دريځ يې روښانه کړی دی. هند په ۲۰۲۱ز.کال د نومبر پر لسمه او يوولسمه نېټه د لومړي ځل لپاره د درېيم سيمه ييز امنيتي ډيالوګ کوربتوب وکړ چې په دې غونډه کې د پاکستان او چين پرته د سيمې هېوادونو، لکه: روسيې، قزاقستان، قرغيزستان، ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ايران ملي امنيت سلاکارانو ګډون وکړ. د غونډې په پای کې غړو هېوادونه ګډه اعلاميه خپره کړه چې په کې په افغانستان کې د داسې ټولشموله نظام چې د افغاني ټولنې د ټولو اړخونو استازيتوب وکړي، په افغانستان کې د بشر حقوقو ته درناوی، له افغانستان څخه د ترهګرۍ د ګواښ مخنيوی او دا چې د افغانستان خاوره به د نورو هېوادونو پرخلاف نه کارېږي، ټينګار وکړ. دغه راز هند د روسيې په کوربتوب د افغانستان په تړاو په پنځمه څو اړخيزه امنيتي غونډه کې چې د ۲۰۲۳ز.کال د فبرورۍ په مياشت کې په مسکو کې ترسره شوه، ګډون وکړ. په دې غونډه کې د هند استازي وويل: هند د خوندي، باثباته او سوله ييز افغانستان غوښتونکی دی او د سيمې هېوادونه بايد له افغانستان او سيمې څخه د داعش په څېر راپورته کېدونکو ترهګريزو ډلو پر وړاندې امنيتي او استخباراتي همکاري رامنځته کړي.[11] د دې ترڅنګ هند د شانګهای همکارۍ سازمان او ملګرو ملتونو غونډو کې هم د افغانستان د مسئلې د سوله ييز حل غوښتنه کړې او اسلامي امارت ته يې څرګنده کړې ده چې هند هيڅکله په افغانستان کې د وسله والو ډلو او طالب مخالف مقاومت ملاتړ نه کوي.[12] په دې ډول سره، د اسلامي امارت او هند د اړيکو په لومړي پړاو کې هند د مخامخ او رسمي دوه اړخيزو اړيکو په رامنځته کېدو کې له احتياط څخه کار اخيسته او هڅه يې کوله چې د افغانستان په اړه يوه سيمه ييزه اجماع رامنځته او مخامخ ورسره رسمي اړيکې ټينګې نه کړي.

**د اړيکو دويم پړاو:** دا پړاو، د ۲۰۲۵ز.کال د اکتوبر پر نهمه نېټه هند ته د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير امير خان متقي له سفر څخه پيل شو.[13] له دغه سفر وروسته هند په کابل کې خپل سفارت د تخنيکي همکارۍ له کچې بشپړ ډيپلوماتيکې کچې ته لوړ کړ[14] چې دا د اسلامي امارت او هند د دوه اړخيزو اړيکو نوی او پرمختللی پړاو دی.

اميرخان متقي ته په هند کې تود هر کلی وويل شو. نوموړی د خپل سفر پرمهال، د رسمي ليدونو سربېره ديوبند دارالعلوم ته هم لاړ، چې له ۱۹۵۰ز.لسيزې راهيسې هيڅ افغان چارواکی په رسمي ډول دغه دارالعلوم ته نه دی ورغلی. دغه درالعلوم ته په سفر سره اميرخان متقي غوښتل هند ته دا پيغام ورکړي چې اسلامي امارت د دغه درالعلوم ارزښت او اهميت ته قايل دی او د دې درالعلوم له افکارو سره هم کوم ټکر نه لري، يعنې غوښتل يې چې اسلامي امارت د معتدل اسلامي فکر په توګه معرفي کړي او له سخت دريځی او د داعش په څېر توندلارو ډلو سره خپل مخالفت څرګند کړي او همدا پيغام يې د سيمې او نړۍ هېوادونو ته هم ورکړ. ديوبند دارالعلوم له اسلامي امارت سره د هند د اړيکو د رغېدو لپاره يو مهم فکټور دی، ځکه په هند کې يو سيکولر نظام دی او دغه هېواد د اسلامي امارت د نظام مذهبي اړخ ښه درک کړی او له همدې امله غواړي چې د دغه ډول مذهبي نظام سره د يو مذهبي ادرس له لارې د اړيکو د ټينګولو پر بنسټ له يوې خوا په دغو اړيکو کې د ډاډ فضاء رامنځته

[11] د ستراتيژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز. «هند ته د اميرخان متقي سفر او د پاليسيو بدلون»، ۲۰۲۵ز. کال. د لاسرسي لينک: https://csrsaf.org/emaratandindia/

[12] معصوم جان معصومي. «د اسلامي امارت بيا ځلي واک ته د رسېدو سره د افغانستان پر وړاندې د هند ډيپلوماتيک تعامل»، سيمه ييز مطالعات مجله، ٦٨-٦٩ ګڼه، ۱۴۰۲ کال، ۱۵۰-۱۵۱ مخونه.

[13] Aljazeera. "Taliban FM begins first visit by senior Afghan leader to India since 2021", 9 Oct 2025, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2025/10/9/taliban-fm-begins-first-visit-by-senior-afghan-leader-to-india-since-2021

[14] AIJAZ HUSSAIN. "India to upgrade Kabul mission to full embassy, signaling deeper ties with Taliban", AP News, October 10, 2025, Access link: https://apnews.com/article/india-afghanistan-taliban-muttaqi-899bac27dee2422e88a54372bdd9efaa

کړي او له بلې خوا اسلامي امارت ته دا پیغام ورکړي چې هند د اسلامي امارت د مذهبي والي مخینې او یا اوسني اسلامي نظام سره کومه ستونزه نه لري.[15] هند ته د امیرخان متقي سفر د اسلامي امارت او هند په اړیکو کې ستر بدلون راوست، چې له امله یې د هند د څار او انتظار پالیسي پای ته ورسېده او دغه پالیسۍ کې لاندې بدلونونه راغلل:

الف- هند په رسمي ډول په کابل کې سفارت پرانېست او له دې سره د دواړو هېوادونو اړیکې سفارتي کچې ته لوړې شوې، له دې معلومېږي چې د هند څار او انتظار پای ته رسېدلی او د اسلامي امارت له پالیسیو او کړنو ډاډه شوی دی او له همدې امله یې له اسلامي امارت سره په سفارتي کچه تعامل پیل کړ.

ب- هند د اسلامي امارت په اړه له څو اړخیزې ډیپلوماسۍ څخه ګټه اخیسته، چې دې ډول ډیپلوماسۍ ته یې هم د پای ټکی کېښود او په دې برخه کې هم بدلون راغی، ځکه چې هند په یوازې ځان د سفارتي اړیکو د پرانېستو پرېکړه وکړه.

ج- هند د اسلامي امارت په مقابل کې یوازې د بشري مرستو ډیپلوماسي پرمخ وړله، یعنې داسې یې ښوده چې تر هغې چې د اسلامي امارت په اړه ډاډ ترلاسه کوي تر هغې به ورسره یوازې بشري مرستې کوي او په کابل کې به د هند په سفارت کې یو تخنیکي ټیم د دغو مرستو په توزیع کې همکاري کوي، یعنې د اسلامي امارت او هند اړیکې یوازې په بشري مرستو ولاړې وې، چې په دې برخه کې هم بدلون راغی او هند په کابل کې د سفارت په پرانېستو سره هر ډول سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او بشري اړیکې رامنځته او دغه اړیکې یوازې د بشري مرستو څخه راووتې.

د امیرخان متقي له سفر وروسته د اسلامي امارت او هند اړیکې لا تودې شوې، د اسلامي امارت په اړه د هند پالیسي بدله شوه او له همدې امله د ۲۰۲۵ز.کال د نومبر پر ۱۹مه نېټه د اسلامي امارت د سوداګرۍ او صنایعو وزیر نورالدین عزیزي هم هند ته په اوه ورځني سفر لاړ. په دغه سفر کې نوموړي د هند د سوداګرۍ او صنعت له وزیر شري پیوش ګویال* سره ولیدل، په دغه کتنه کې دواړو لوریو د سوداګرۍ پر اسانتیا، د یو او بل بازار ته پر لاسرسي، ظرفیت لوړونې او سیمه ییز اتصال خبرې وکړې. دواړو لوریو د کابل-ډهلي او کابل-امرتسر هوایي دهلیز پر پرانېستو هم هوکړه وکړه.[16] د دې ترڅنګ د سوداګرۍ، صنعت او پانګونې ګډو کاري ډلو پر بیا فعالیدو هم هوکړه وشوه او د کانونو او نورو لوړ ارزښت لرونکو سکټورونو په برخه کې د ګډو همکاریو د فرصتونو د پلټلو پر سر هم سره سلا شول. د دې ترڅنګ پرېکړه وشوه چې افغانستان او هند به په خپلو سفارتونو کې سوداګریز استازي (اتشې) وګماري او د سوداګرۍ او صنعت ګډې خونې (*Joint Chamber of Commerce and Industry*) به رامنځته کړي.[17] لنډه دا چې له ۲۰۲۱ز. کال وروسته د اسلامي امارت او هند اړیکې پر دوه پړاوونو ویشلی شو، په لومړي پړاو کې چې له ۲۰۲۱ز. کال څخه تر ۲۰۲۵ز. کال نیمایي پورې یې دوام وکړ، د دواړو هېوادونو اړیکې نږدې نه وې او هند غوښتل د اسلامي امارت په اړه د ډاډ له ترلاسه کولو وروسته دغه اړیکې په لوړه کچه رامنځته کړي، خو په ۲۰۲۵ز. کال کې د اسلامي امارت او پاکستان د مخامخ جګړې وروسته، هند دا درک کړه چې پر اسلامي امارت باور کېدای شي او باید

[15] Abdul saboor Mubariz. "Rising Tensions Between Afghanistan and Pakistan: The U.S. and Indian Factor", The South Asian Times, 2025, Access link: https://thesouthasiantimes.info/OP-ED/news/rising-tensions-between-afghanistan-and-pakistan-the-us-and-indian-factor/6204

* Shri Piyush Goyal

[16] The Hindu. "Afghan Minister Azizi's visit was very successful and productive: MEA", 2025, Access link: https://www.thehindu.com/news/national/afghan-minister-azizis-visit-was-very-successful-and-productive-mea/article70327595.ece

[17] Ministry of External Affairs Government of India. "Visit of Minister of Industry and Commerce of Afghanistan to India", 2025, Access link: https://www.mea.gov.in/press-releases.htm?dtl/40335/Visit_of_Minister_of_Industry_and_Commerce_of_Afghanistan_to_India

ورسره اړیکې نږدې کړای شي او هماغه و چې په ۲۰۲۵ز.کال د اکتوبر په میاشت کې امیرخان متقي هند ته سفر وکړ او بیا هند په کابل کې خپل سفارت پرانېست او د دواړو هېوادونو اړیکې ورغېدې.

**په دوه اړخیزو اړیکو کې شته فرصتونه**

د اسلامي امارت او هند په دوه اړخیزو اړیکو کې ځینې فرصتونه موجود دي، چې له لارې یې دغه اړیکې ښې شوي او یا به هم راتلونکې کې نږدې او پیاوړې شي. پر دغو فرصتونو دلته بحث کوو:

۱- **د اړیکو په ښه کېدو کې د پاکستان فکټور:** په ۲۰۲۱ز.کال کې د اسلامي امارت له واکمنۍ څخه تر ۲۰۲۵ز. کال پورې، پاکستان د اسلامي امارت او هند په اړیکو کې د ننګوني یو فکټور و، ځکه هند فکر کاوه چې په افغانستان کې د اسلامي امارت واکمني د پاکستان د واکمنۍ په معنی دی. په دې اړه هندی لیکوال سیري پتي ناراینن وایي: د پاکستان له رامنځته کېدو وروسته له ۱۹۴۷ز.کال څخه تر ۱۹۹۲ز.کال پورې په افغانستان کې د پاکستان په پرتله د هند نفوذ ډېر و. د همدې نفوذ د له منځه وړلو او د افغانستان په مسایلو کې د خپل رول د پراختیا په موخه پاکستان د یوې لارې په لټه کې و، چې بالاخره یې د طالبانو په شکل کې دغه لاره پیدا کړه. د مجاهدینو خپلمنځي اختلافات د دې لامل شول چې پاکستان په افغانستان کې د اسلامي امارت راتګ ته زمینه برابره کړي. هماغه و چې د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې د هند هر ډول نفوذ پای ته ورسېده او ډیپلوماتیکې اړیکې یې پرې شوې.[18] همدارنګه په دې اړه د هند متقاعد جنرال او د هند د پوځ پخوانی مشر ارون سبهګل وایي: موږ ته تر ټولو مهمه مسئله داده چې په افغانستان کې د پاکستان د نفوذ مخنیوی وکړو او که په دې کار ونه توانېږو، نو له یوې خوا به مو په افغانستان کې د هند پر وړاندې نیابتي جګړه ختمه کړې نه وي او له بلې خوا به پر کابل د اسلامي امارت شاهدان اووسو.[19]

د پاکستان فکټور چې د اسلامي امارت او هند په اړیکو کې ننګونه ګڼل کېده، اوس د دغه اړیکو په ښه کېدو کې پر یو فرصت بدل شوی دی، ځکه د ډیورنډ فرضي کرښې، کډوالو او امنیتي دلایلو پر بنسټ د اسلامي امارت او پاکستان اړیکې خرابې او ان تر مخامخ جګړې ورسېدې. پاکستان په ۲۰۲۵ز.کال د اکتوبر میاشتې پر ۹مه نېټه پر پلازمینه کابل برید وکړ، چې په مقابل کې د افغانستان اسلامي امارت د بین المللي حقوقو په رڼا کې له ځان څخه د دفاع په موخه د ډیورنډ پر ټوله فرضي کرښه پر پاکستاني پوستو انتقامي بریدونه وکړل او د ذبیح الله مجاهد پر وینا په دې بریدونو کې یې ۵۸ پاکستاني پوځیان ووژل او نږدې ۲۹ یې ټپیان کړل.[20] دغې مخامخ جګړې د اسلامي امارت او پاکستان اړیکې خرابې کړې او هند ته فرصت په لاس ورغی تر څو له اسلامي امارت سره خپلې اړیکې لا ورغوي، نو له همدې امله یې افغاني چارواکو ته بلنه ورکړه تر څو هند ته سفر وکړي. د همدې بلنې په اساس د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي او د سوداګرۍ او صنایعو وزیر نورالدین عزیزي هند ته سفرونه وکړل او په مقابل کې یې هند په کابل کې خپل سفارت په بشپړ ډول پرانېست. لنډه دا چې د پاکستان او اسلامي امارت خرابو اړیکو د اسلامي امارت او هند د اړیکو د رغېدو لپاره فرصت برابر کړ.

---

[18] Sripathi Narayanan. “Pakistan & Afghanistan: Understanding Islamabad’s Policies and Strategies”, Institute of Peace and Conflict Studies (IPCS) Special Report, 2010, P. 2, Access link: http://www.jstor.com/stable/resrep09376

[19] Larry Hanauer and Peter Chalk, India’s and Pakistan’s Strategies in Afghanistan: Implications for the United States and the Region, RAND Corporation, 2012, P. 11. Access link: https://www.jstor.org/stable/10.7249/j.ctt1q6105.10

[20] Riaz Khan. “Afghanistan says it has killed 58 Pakistani soldiers in overnight border operations”, Independent, 2025, Access link: https://www.independent.co.uk/news/kabul-afghanistan-peshawar-pakistani-zabihullah-mujahid-b2843867.html

**۲- اقتصادي اړتیاوې او تعامل:** اسلامي امارت او هند دوه اړخیزې او څو اړخیزې اقتصادي اړیکې او اړتیاوې لري، چې دغه اړیکې او اړتیاوې د دې فرصت برابروي تر څو دواړه هېوادونه اړ شي چې له یو او بل سره اړیکې پیاوړې کړي. دغه اقتصادي اړتیاوې او اړیکې په دوه برخو کې تر څېړنې لاندې نیسو، یو یې سیمه ییزې پروژې دي او بل یې دوه اړخیزې اړتیاوې.

**الف- سیمې ییزې پروژې:** افغانستان او هند په ځینو سیمه ییزو پروژو کې ګډ دي، د بېلګې په ډول:

- **ټاپي (*TAPI*) د ګازو نللیکې پروژه:** دغه پروژه په ۲۰۱۵ز. کال کې د ډسمبر میاشتې پر ۱۳مه نېټه د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ترمنځ لاسلیک شوه.[21] د دغې پروژې له لارې به ۳۳ میلیارده کیوبیک متره ګاز هر کال غړو هېوادونو ته انتقالېږي.[22] د دې پروژې پر بنسټ، ګاز به د ترکمنستان له دولت اباد څخه پیلېږي او د ۱۸۰۰ کیلو متره اوږدوالي په لرلو سره به د افغانستان د هرات - کندهار له لارې د پاکستان کویټې او ملتان ته او له هغه ځایه د هند فېضلکه ته رسېږي.
- **د چابهار (*The International Transport and Transit Corridor*) پروژه:** دغه پروژه په ۲۰۱٦ز. کال کې د افغانستان، ایران او هند ترمنځ لاسلیک شوه. دا پروژه د دغو درېو هېوادونو ترمنځ د ټرانسپورټ او ټرانزیټ یوه سمندري لاره ده چې له لارې یې افغانستان له هند سره نښلېږي او له دې لارې به دغه هېوادونه خپل مالونه او خدمات یو بل ته انتقالوي.[23]

د دغو سیمه ییزو پرژو د بریالي کېدو لپاره ګډ کار ته اړتیا ده او ګډ کار هغه مهال بریالی کېږي چې دواړه هېوادونه نږدې او پیاوړې اړیکې ولري، نو دغه ګډې سیمې ییزې پروژې هم یو فرصت دی چې د اسلامي امارت او هند اړیکې سره نږدې کړي.

**ب- دوه اړخیزې اړتیاوې:** هند د مرکزي اسیا انرژۍ او بازار ته د لاسرسي هڅې کوي او په دې برخه کې افغانستان ته اړتیا لري. د یو اټکل له مخې هند اړ دی چې تر ۲۰۳۰ز.کال پورې خپل ۸۰ سلنه تېل له بهرنیو هېوادونو څخه وارد کړي، ځکه داخلي تېل به یې یوازې ۲۰ سلنه اړتیا پوره کړي. د ټاپي پروژه به د هند د اړتیا وړ انرژۍ یوازې یو اعشاریه پنځه (۱،۵) سلنه پوره کړي.[24] دا چې هند د مرکزي اسیا انرژۍ ته د لاسرسي په برخه کې افغانستان ته اړتیا لري او په دې برخه کې یې پانګونه هم کړې، د بېلګې په ډول: په ۲۰۰۸- ۲۰۰۹ز. کلونو کې یې له زرنج څخه تر دلارام پورې ۲۲۰ کیلو متره سرک جوړ کړ،[25] هند ته یې ګټه دا شوه چې هند به وکولای شي د ایران د زاهدان له لارې زرنج ته داخل شي او د زرنج- دلارام له لارې به هرات سره وصل شي او د هرات له لارې به له مرکزي اسیا سره ونښلیږي. لنډه دا چې هند له یوې خوا د افغانستان بازار ته او له بلې خوا د مرکزي اسیا انرژۍ او بازار ته اړتیا لري او په مقابل کې افغانستان هم د خپلو وچو او لمدو میوو ، طبي بوټو او نورو توکو د خرڅلاو لپاره د هند بازار ته اړتیا لري او له پاکستان سره د اړیکو د خرابېدو او دروازو بندېدو له امله دغه اړتیا نوره هم زیاته شوې ده. دغه دوه اړخیزه اړتیا د دې فرصت برابروي چې دواړه هېوادونه سره اړیکې نږدې او پیاوړې کړي.

---

[21] Amina khan, "AFGHANISTAN AND REGIONAL CONNECTIVITY", INSTITUTE OF STRATEGIC STUDIES ISLAMABAD, Aug 6, 2019, P. 3, Access link: https://issi.org.pk/wp-content/uploads/2019/08/IB_Amina_and_Awais_Ali_and_Mohib-Afridi_Aug_6_2019.pdf

[22] Roman Muzalevsky, "REGIONAL CONNECTIVITY FRAMEWORK AND PERFORMANCE OF LOCAL ECONOMIES", Strategic Studies Institute, US Army War College, 2014, P. 71, Access link: http://www.jstor.com/stable/resrep11955.7

[23] M. Azim Wardak, Infrastructure Connectivity in Afghanistan, Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan, 2017. P. 17.

[24] Larry Hanauer and Peter Chalk, India's and Pakistan's Strategies in Afghanistan: Implications for the United States and the Region, RAND Corporation, 2012, P. 12. Access link: https://www.jstor.org/stable/10.7249/j.ctt1q6105.10

[25] Ibid.

**۳- د اړیکو په پیاوړتیا کې د روسیې فکتور:** روسیه هغه هېواد دی چې له تاریخي پلوه د هند ستراتیژیک ملګری پاتې شوی او اوس هم د غرب د ټولو بندیزونو سربېره هند د روسیې تېل پېري، مودي مسکو ته او پوتین ډهلي ته سفرونه کوي چې دا د دواړو هېوادونو د ملګرتیا ژوروالی ښايي. له بل پلوه د روسیې او اسلامي امارت اړیکې هم ښې دي، روسیه لومړنی هېواد دی چې د اسلامي امارت حکومت یې په رسمیت پېژندلی[26] او هڅه کوي چې له دې لارې افغان حکومت سره اړیکې لا نږدې کړي او د افغانستان له غوره موقعیت څخه په ګټه اخیستنه جنوبي اسیا ته لاسرسی پیداکړي، نو د هند او اسلامي امارت سره د روسیې د اړیکو دا نږدېوالی یو فرصت دی تر څو روسیه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو په ښه کولو کې رغنده رول ولوبوي او په دغو اړیکو کې د ډېر رامنځته کوونکي په توګه ونډه واخلي.

**په دوه اړخیزو اړیکو کې شته ننګونې**

د اسلامي امارت او هند په اړیکو کې د شته فرصتونو ترڅنګ ځینې ننګونې هم موجودې دي چې له امله یې دغه اړیکې له ګواښ سره مخامخ کېږي، دغه ننګونې په لاندې ډول دي:

**۱- خرابې تاریخي اړیکې او د باور کموالی:** په ۱۹۹٦ز.کال په افغانستان کې د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته هند خپلې ټولې اړیکې له افغانستان سره پرې کړې، اسلامي امارت یې ترهګره ډله یاده کړه او په مقابل کې یې د شمالي اتحاد ملاتړ پیل کړ.[27] دغه اړیکې هغه مهال لا خرابې شوې کله چې په ۱۹۹۹ز.کال کې طالبانو د انډین ایرلاینز ۸۱۴ نمبر مسافر وړونکې الوتکه یرغمل کړه او کندهار ته یې یوړه او د دغه یرغمل شوې الوتکې او هندیانو په بدل کې یې د هند له حکومت څخه د ځینو اشخاصو د خلاصون غوښتنه وکړه، هند هم درې تنه د دغو یرغملو په بدل کې خوشې کړل چې له هغې ډلې دوه تنه یې پاکستانیان او هغه اشخاص وو چې په کشمیر کې یې د پاکستان په ګټه او د هند پر خلاف جګړه کوله، یو یې مسعود اظهر و چې د جیش محمد ډلې بنسټګر دی او بل یې احمد عمر سید شیخ و چې وروسته یې بیا یو امریکایي ژورنالست ډانیال پیرل وتښتاوه او بیا یې وواژه.[28]

هند په دې باور و چې طالبان یوه داسې ډله ده چې په افغانستان کې د پاکستان نیابتي جګړه پرمخ بیایي او په دغه هېواد کې د هند اهداف په نښه کوي او د دې لپاره بېلګې هم وړاندې کوي: په ۲۰۰۸ز.کال د جولای میاشتې پر ۷ نېټه په افغانستان کې د هند پر سفارت موټر بم چاودنه وشوه چې په دغه چاودنه کې بریګېډېر مېحتا (*Brigadier Mehta*) چې په کشمیر کې د پاڅونوالو پر خلاف په عملیاتو کې یې تجربه درلوده او هغه مهال یې په افغانستان کې د افغان ځواکونو د روزنې په برخه کې له افغان حکومت سره مرسته کوله، ووژل شو او د دې چاودنې اصلي موخه همدی و.[29] همدارنګه په ۲۰۰۹ ز.کال د اکتوبر میاشتې پر ۸ نېټه په افغانستان کې د هند پر سفارت دویم برید وشو چې په پایله کې یې ۱۷ کسان مړه او ٦۳ زخمیان شول، د ۲۰۱۰ز.کال د فبرورۍ میاشتې پر ۲٦ نېټه پر (*Hamid Guesthouse*) چې په کابل کې د یو هوټل نوم دی

[26] Hapejul Halsana." India-Afghanistan Relations: Opportunities and Challenges in the Era of Taliban", International Journal of Science and Research (IJSR), 2024, P. 1129, Access link: https://www.ijsr.net/getabstract.php?paperid=SR25716213445

[27] Chietigj Bajpaee. "India is seeking to reset relations with the Taliban. But can this rapprochement last?", Chatham House, 2025, Access link: https://www.chathamhouse.org/2025/10/india-seeking-reset-relations-taliban-can-rapprochement-last

[28] Gareth Price and Chatham House. "India's Policy towards Afghanistan", Chatham House, August 2013, P.1, Access link: https://www.chathamhouse.org/sites/default/files/public/Research/Asia/0813pp_indiaafghanistan.pdf

[29] Raghav Sharma, India & Afghanistan: Charting The Future, Institute of Peace and Conflict Studies, 2009, P.1, Access link: http://www.jstor.com/stable/resrep09279

چې اکثره وخت هندي ډاکټران او انجینران ورخخه د اوسېدنې لپاره ګټه اخیسته، برید وشو، چې په پایله کې یې ۳٦ کسان زخمیان شول چې له ډلې یې ۱۸ کسان هندیان وو.[30]

د اسلامي امارت او هند د اړیکو دغه ډول مخینه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا پر وړاندې یوه ننګونه ده. هند په تېرو څلورو کالونو کې له دې امله اړیکې نه رامنځته کولې چې اسلامي امارت یې پاکستان ته نږدې ډله ګڼله او دا ډول فکر په اړیکو کې بې باوري رامنځته کوي. سره له دې چې هند او اسلامي امارت د نږدې کېدو په حال کې دي او هند په کابل کې سفارت پرانېست، خو د اړیکو دغه ډول مخینه او د هند دا ویره چې پاکستان او اسلامي امارت به یو ځل بیا نږدې شي او پخوانی ملګرتیا به یې ټینګه شي، د دوه اړخیزو اړیکو د دوام پر وړاندې یوه ننګونه ده.

**۲- امنیتي ننګونې:** هند په دې باور دی چې پاکستان د افغانستان له خاورې د هند ضد ډلو د پټنځای په توګه ګټه اخلي. د دوی په اند، حرکت المجاهدین، جیش محمد او لشکر طیبه هغه ډلې دي چې غړي یې د پاکستان له لوري په افغانستان کې روزل کېږي او بیا یې د هند په مقابل کې استعمالوي. هند، پاکستان تورنوي چې د ممبي ترهګریز برید چې په ۲۰۰۸ز. کال د نومبر پر ۲٦مه نېټه په ممبي کې ترسره شو چې له لارې یې هوټلونه، ادارې، ریل پټلۍ او نور ځایونه په نښه شول، د یوري برید، کشمیر کې ترسره کېدونکي بریدونه، د هند پر پارلمان برید او دې ته ورته په هند کې د نورو ترسره کېدونکو بریدونو تر شا د جیش محمد، حرکت المجاهدین او لشکر طیبه لاس دی او دا هغه ډلې دي چې د پاکستان له خوا حمایه کېږي او د روزنې او پټنځای لپاره یې ورته افغانستان ټاکلی دی.[31] سره له دې چې هند دغه قضیه په تېر شل کلن جمهوریت کې ډېره مطرح کوله، خو اوس هم دغه ویره ورسره موجوده ده او له همدې امله یې په تېرو څلورو کالونو کې له یو څو محدودو اشخاصو پرته هیڅ افغان ته اجازه نه ده ورکړې چې هند ته داخل شي. د اسلامي امارت په راتګ سره هند ته دا ویره پیداشوه چې هسې نه پاکستان د افغانستان له لارې هند ته خلک را داخل کړي او بیا دلته بریدونه وکړي. د هند دغه امنیتي اندېښنه اوس هم د اسلامي امارت او هند په اړیکو کې یوه ننګونه ده.

**۳- د چین فکټور او له سیپیک سره د افغانستان نښلېدل:** له افغانستان څخه د امریکایي پوځیانو وتل د چین لپاره یو فرصت رامنځته کړ تر څو د افغانستان اسلامي امارت سره پراخې سیاسي او اقتصادي اړیکې رامنځته کړي. په ۱۴۰۲هـ.ل.کال کې چین په رسمي ډول (*Zhao Xing*) د سفیر په توګه افغانستان ته معرفي کړ او اسلامي امارت هم بلال کریمي په رسمي ډول په چین کې د افغان سفیر په توګه معرفي کړ[32] چې دا د ډیپلوماتیکو اړیکو په برخه کې یو پرمختګ او چین لومړنی هېواد شو چې د اسلامي امارت د سفیر باور لیک یې په رسمي ډول ومانه.[33] چین غواړي په اقتصادي برخه کې د افغانستان په بېلابېلو طبیعي سرچینو کې پانګونه وکړي. لیتیم یو له هغو طبیعي سرچینو څخه دی چې چین ورته د برقي

---

[30] Larry Hanauer and Peter Chalk, Op. Cit, P. 29.

[31] Maliha Zeba Khan. "Pakistan's Foreign Policy Towards Afghanistan since Operation Freedom Sentinel: An Overview", ResearchGate, March/ 2020, P. 117, Access link: https://www.researchgate.net/publication/339736934_pakistan's_foreign_policy_towards_afghanistan_since_operation_freedom_sentinel_an_overview

[32] Charlotte Greenfield. "Afghanistan's Taliban sends new ambassador to Beijing", Reuters, 2023, Access link: https://www.reuters.com/world/asia-pacific/afghanistans-taliban-sends-new-ambassador-beijing-2023-12-01/

[33] Aljazeera, "Taliban gives a warm welcome to China's new ambassador to Afghanistan", 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/9/13/taliban-gives-a-warm-welcome-to-chinas-new-ambassador-to-afghanistan

موټرو د تولید په برخه کې سخته اړتیا لري.[34] افغانستان نږدې د یو ټریلیون ډالرو په ارزښت لیتیم لري او د چین ګوچین (*Gochin*) شرکت غواړي په دې برخه کې ۱۰ میلیارده ډالره پانګونه وکړي، چې له لارې به یې په مستقیم ډول یو لک او شل زره او په غیرمستقیم ډول نږدې یو میلیون دندې پیداشي.[35] همدارنګه د ۲۰۲۳ز.کال په جنورۍ میاشت کې یو چینایي شرکت (*China Petroleum Economics and Information Research Center (CPEIC)*.) له افغانستان اسلامي امارت سره د امو په حوزه کې د ۴۵۰ میلیونه ډالرو په ارزښت[36] د تېلو د استخراج ۲۵ کلن قرارداد لاسلیک کړ. په دغه قرارداد کې افغانستان ۲۰ سلنه برخه لري چې په راتلونکي کې به ۷۵ سلنې ته ورسېږي. البته یادونه باید وکړو چې دغه تړون د اسلامي امارت له لوري د ۲۰۲۵ز. کال د جون په میاشت کې فسخه شوی او دلیل یې د تړون له موادو څخه د چینایي شرکت سرغړونه ښودل شوې ده.[37] سره له دې چې دغه تړون فسخه شوی دی، خو دلته یې د دې لپاره یادونه اړینه ده چې په افغانستان کې د چین د پانګونې اهمیت او پراختیا په ګوته شي.

د دې ترڅنګ چین غواړي د افغانستان د زېربناو په جوړولو کې هم همکاري وکړي، چې تراوسه یې د سالنګ، کونړ او لغمان د سړکونو د جوړولو وعده کړې او راتلونکې کې پلان لري چې ازبکستان، ترکمنستان او تاجکستان د رېل پټلیو او پراخو سړکونو د جوړولو له لارې له پاکستان سره ونښلوي.[38] لنډه دا چې د افغانستان اسلامي امارت له چین سره نږدې سیاسي او اقتصادي اړیکې لري او د چین او افغانستان دا ډول نږدېوالی د هند لپاره د اندېښنې وړ ده. هند او چین په سیمه کې دوه ستر سیالان دي چې ترمنځ یې جیوپولټیکي شخړې هم موجودې دي، په افغانستان کې د چین د نفوذ پراختیا د هند لپاره اندېښنې زېږوي او دا د اسلامي امارت او هند پر اړیکو هم اغېز لري، له بل پلوه چین غواړي چې افغانستان هم د سیپیک د دهلیز برخه کړي او د همدې موضوع لپاره یې څو ځلې له پاکستاني لوریو سره خبرې اترې هم کړې دي. چین غواړي چې په افغانستان کې د پاکستان له اقتصادي او ډیپلوماتیکي نفوذ څخه ملاتړ وکړي او له دې لارې غواړي چې له پاکستان سره دوه اړخیز اقتصادي دهلیز (*CPEC*) په څو اړخیز اقتصادي دهلیز *CAICAP (China, Afghanistan, Iran, Central Asia and Pakistan)* بدل کړي.[39] هند په څرګند ډول په سیپیک کې د افغانستان له ګډون سره مخالف ښودلی او دلیل یې دا ښایي چې: سیپیک د پاکستان تر اداري لاندې کشمیر (ګلګت بلتستان) څخه تېرېږي او هند پر دغه سیمه دعوه لري، نو د سیپیک سره د افغانستان نښلېدل د پاکستان د خاورې په توګه د دې سیمې په رسمیت پېژندل دي او دا کړنه هندي لیدلوري سره په

[34] Nilofar Sakhi. "Regional Security Complexity and Multilateral Diplomacy: A Case Study of Afghanistan and its Regional Neighbors", International Journal of Security Studies & Practice, 2023, P. 8, Access link: https://ijssp.ungjournals.org/articles/24/files/6453ee74944f9.pdf

[35] The Economic Times, "China eyes Afghanistan's lithium reserves, offers to invest USD 10 billion", 2023, Access link: https://economictimes.indiatimes.com/news/international/world-news/china-eyes-afghanistans-lithium-reserves-offers-to-invest-usd-10%20billion/articleshow/99521732.cms?utm_source=contentofinterest&utm_medium=text&utm_campaign=cppst

[36] Ahmed S. Cheema, "China's Gamble in Afghanistan", The Diplomat, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/05/chinas-gamble-in-afghanistan/#:~:text=China%E2%80%99s%20investments%20in%20Afghanistan%20have%20been%20growing%20in,explore%20and%20develop%20oil%20reserves%20in%20northern%20Afghanistan

[37] Kabul Now. "Taliban Terminates Major Oil Extraction Deal with Chinese Firm", 2025, Access link: https://kabulnow.com/2025/06/taliban-terminates-major-oil-extraction-deal-with-chinese-firm/

[38] Ahmed S. Cheema, "China's Gamble in Afghanistan", Op. Cit.

[39] Ashraf Jehangir Qazi. "Pakistan's Afghanistan policy", DAWAN News, August 17, 2023, Access link: https://www.dawn.com/news/1770589/pakistans-afghanistan-policy

ټکر کې ده.[40] هند وايي چې د *BRI* پروژه باید د سرحدونو او قلمرونو حساسیتونه په درک سره پرمخ یوړل شي. د دې ترڅنګ بل ستر دلیل چې د *SIPRI* په راپور کې راغلی هغه دا دی چې، هند وايي بېجینګ له دې لارې غواړي په سیمه کې خپل نفوذ زیات کړي او هند په ستراټیژیکه محاصره کې را ایسار کړي.[41] د سیپیک سره د هند د مخالفت یو بل دلیل دا هم کېدای شي چې که افغانستان له سیپیک سره ونښلي، نو د چابهار بندر به بې ارزښته شي، ځکه افغانستان به بیا په مستقیم ډول د ګوادر بندر له لارې سمندر سره وصل شي چې بیا به چابهار بندر ته ډېره اړتیا ونلري.

لنډه دا چې په افغانستان کې د چین د نفوذ پراختیا او د چین دا پلان چې افغانستان له سیپیک سره ونښلوي بله هغه ستره ننګونه ده چې د اسلامي امارت او هند په اړیکو کې موجوده ده.

**۴- د اسلامي امارت د نړیوالې رسمیت پېژندنې ستونزه:** اسلامي امارت تراوسه له روسیې پرته کوم بل هېواد په رسمیت نه دی پېژندلی او دغه چارې اسلامي امارت له سیاسي انزوا سره مخامخ کړی دی. د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندنه هم د هند او اسلامي امارت د اړیکو د پراختیا پر وړاندې یوه ننګونه ده، ځکه د رسمیت نه پېژندنې له امله د افغانستان په بانکي سکټور او نړیوال تادیاتي سیستم باندې بندیزونه دي او دغه بندیزونه د هند او افغانستان د اقتصادي اړیکو د پراختیا پر وړاندې یوه ننګونه ده. د دې ترڅنګ د رسمیت نه پېژندنې له امله هند او اسلامي امارت نشي کولای چې ځینو سیاسي او دفاعي تړونونو ته ننوځي چې دا د اسلامي امارت او هند د سیاسي اړیکو د پراختیا پر وړاندې یوه ننګونه ده. لنډه دا چې د نړیوالې ټولنې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندنه هم د اسلامي امارت او هند د اړیکو پر وړاندې یوه ننګونه ده.

**پایله**

د اسلامي امارت او هند اړیکې له تاریخي پلوه ښې نه دي پاتې شوي. د اسلامي امارت په لومړنۍ دوره کې له یوې خوا هیڅ ډول ډیپلوماتیکې اړیکې موجودې نه وې او له بلې خوا هند د اسلامي امارت په مقابل کې د شمالي اتحاد ملاتړ کاوه چې له امله یې اړیکې نورې هم خرابې شوې. په ۲۰۲۱ز.کال کې د افغانستان اسلامي امارت د بیاځلي واکمنۍ وروسته هم هند خپل هر ډول حضور په افغانستان کې پای ته ورساوه او بیا یې وروسته د بشري ډیپلوماسۍ په چوکاټ کې له افغانستان سره بشري مرستې پیل کړې او په کابل کې سفارت ته یې تخنیکي ټیم ولېږه، خو په ۲۰۲۵ز.کال کې د پاکستان او اسلامي امارت ترمنځ د اړیکو د خرابېدو له امله هند ته فرصت په لاس ورغی او له افغانستان سره اړیکې ښې او په کابل کې یې په بشپړ ډول خپل سفارت پرانېست.

د اسلامي امارت او هند په اړیکو کې ځینې فرصتونه او ننګونې موجودې دي. د پاکستان سره د اسلامي امارت د اړیکو خرابوالی یو فرصت دی تر څو هند او اسلامي امارت سره نږدې شي، د دې ترڅنګ مرکزي اسیا ته د هند اړتیا او د هند مارکیټ ته د افغانستان اړتیا بل هغه فرصت دی تر څو دواړه لوري د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره له یو او بل سره نږدې شي، د دې ترڅنګ په ګډه سیمه ییزو پروژو لکه، ټاپي او چابهار کې د دواړو ګډون د دې فرصت برابروي تر څو اړیکې سره نږدې کړي،

[40] Neha Manhas, Neeraj Singh Manhas and Hari Yadav G. “Shifting Power Dynamics in South Asia: The Geopolitical Impact of China’s CPEC on Regional Rivalries”, Discover Global Society, 2025, P. 10, Access link: https://link.springer.com/content/pdf/10.1007/s44282-025-00227-z.pdf

[41] Neha Manhas, Neeraj Singh Manhas and Hari Yadav G. “Shifting Power Dynamics in South Asia: The Geopolitical Impact of China’s CPEC on Regional Rivalries”, Discover Global Society, 2025, P. 10, Access link: https://link.springer.com/content/pdf/10.1007/s44282-025-00227-z.pdf

ځکه پرته له نږدې او باورمنو اړیکو د ګډو پروژو عملي کول ستونزمن دي. د دې ترڅنګ اسلامي امارت او هند دواړه له روسیې سره نږدې اړیکې لري او کېدلای شي دغه ستر قدرت د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې ښې او د یو ضامن رول اداء کړي. د دې فرصتونو ترڅنګ ځینې ننګونې هم مشخصې شوې او هغه دا چې له تاریخي پلوه اسلامي امارت او هند اړیکې ښې نه دي پاتې شې، هند فکر کوي چې اسلامي امارت له پاکستان سره پخوانۍ نږدې اړیکې لري او د اړیکو دغه ډول مخینه د دواړو هېوادونو د اړیکو د رغېدو پر وړاندې ننګونه ده. همدارنګه هند د افغانستان په اړه دوه ډوله امنیتي اندېښنې لري، یو دا چې که له افغانستان سره اړیکې پراخې شي او هند ته د افغانستان له لورې تګ او راتګ زیات شي، نو هسې نه چې پاکستان د افغانانو په جامه کې خلک هند ته ولېږي او هلته عملیات وکړي او دویم دا چې په کشمیر کې د هند خلاف جنګېدونکو ډلو ته په افغانستان کې پټنځایونه برابر نشي، چې د هند دغه امنیتي اندېښنې هم د دوه اړخیزو اړیکو پر وړاندې ننګونه ده. په افغانستان کې د چین پراخ نفوذ او پانګونه او له سیپیک سره د افغانستان نښلون چې هند یې په څرګند ډول مخالفت کړی، د هند د اندېښنې وړ ګرځېدلی او په اړیکو کې یې د یوې ننګونې په توګه یادولی شو. د دې ترڅنګ د نړیوالې ټولنې له لورې د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندنه هم یو ننګونه ده چې د اسلامي امارت او هند په دوه اړخیزو اړیکو اغېزه لرلی شي.

**وړاندیزونه**

۱- اسلامي امارت دې د هند او پاکستان ترمنځ په اړیکو کې توازن وساتي، ځکه که دغه توازن خرابېږي او یو لوري ته ډېر نږدیوالی رامنځته کېږي، دا په افغانستان کې د هند او پاکستان د سیالۍ د بیا پیل لامل ګرځېدای شي.

۲- اسلامي امارت دې په هره ممکنه لاره هند ته دا ډاډ او قناعت ورکړي چې د دوی بهرنی سیاست په بشپړ ډول خپلواک او پر ملي او اسلامي ارزښتونو ولاړ دی او هېڅکله به د پاکستان له کړکۍ هند ته ونه ګوري.

۳- افغانستان اسلامي امارت دې د یوې پراخې څېړنې او ارزونې له لارې په سیپک کې د افغانستان د ګډون ګټې او زیانونه، د افغان اقتصاد پوهانو پر مټ تر کره ارزونې لاندې ونیسي او بیا دې د ملي ګټو او سیمه ییزو حساسیتونو په نظر کې نیولو سره، پریکنده تصمیم ونیسي.

۴- په هند کې ډېر افغان محصلین په زده کړو بوخت دي او ډېر نور لیوالتیا لري چې دې هېواد کې زده کړې ترسره وکړي، نو د هند حکومت څخه غوښتنه ده چې افغان محصلینو ته په هند کې د زده کړو اسانتیاوې برابرې کړي او د شته محصلینو لپاره دې د تګ او راتګ او ویزو سهولتونه برابر کړي.

۵- د دې لپاره چې د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې د پخوا په څېر شي، هند باید له یوې خوا افغان سوداګرو ته د ویزې او د تګ او راتګ اسانتیاوې رامنځته کړي او له بلې خوا باید په دولتي کچه سوداګریزې اړیکې لا پراخه کړي.

**مأخذونه**

1- Abdul saboor Mubariz. "Rising Tensions Between Afghanistan and Pakistan: The U.S. and Indian Factor", The South Asian Times, 2025, Access link: https://thesouthasiantimes.info/OP-ED/news/rising-tensions-between-afghanistan-and-pakistan-the-us-and-indian-factor/6204

2- Abid Hussain, "Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan", Aljazeera, 18 Mar 2024, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2024/3/18/pakistan-launch-retaliatory-strikes-inside-afghanistan-raising-

tensions?_gl=1*1nsvqv1*_ga*UFJCS2ZNTmk5NDYzZC1aNHhjbDlqcVZXckdDQTZETFBOSTRHX0hsZk9yUkluTG1pcFRRQnBfc2hfdGc4MlM0Rg..*_ga_XN9JB9Q0M1*MTcyODM5MjY3NS4xLjEuMTcyODM5MjY3Ni4wLjAuMA

3- Ahmed S. Cheema. "China's Gamble in Afghanistan", The Diplomat, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/05/chinas-gamble-in-afghanistan/#:~:text=China%E2%80%99s%20investments%20in%20Afghanistan%20have%20been%20growing%20in,explore%20and%20develop%20oil%20reserves%20in%20northern%20Afghanistan

4- AIJAZ HUSSAIN. "India to upgrade Kabul mission to full embassy, signaling deeper ties with Taliban", AP News, October 10, 2025, Access link: https://apnews.com/article/india-afghanistan-taliban-muttaqi-899bac27dee2422e88a54372bdd9efaa

5- Aljazeera. "Taliban gives a warm welcome to China's new ambassador to Afghanistan", 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/9/13/taliban-gives-a-warm-welcome-to-chinas-new-ambassador-to-afghanistan

6- Aljazeera. "At least 47 dead in Afghanistan after Pakistan attacks: Officials", 17 April, 2022, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2022/4/17/afghanistan-death-toll-in-pakistan-strikes-rises-to-47-official

7- Aljazeera. "Taliban FM begins first visit by senior Afghan leader to India since 2021", 9 Oct 2025, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2025/10/9/taliban-fm-begins-first-visit-by-senior-afghan-leader-to-india-since-2021

8- Amina khan. "AFGHANISTAN AND REGIONAL CONNECTIVITY", INSTITUTE OF STRATEGIC STUDIES ISLAMABAD, Aug 6, 2019, Access link: https://issi.org.pk/wp-content/uploads/2019/08/IB_Amina_and_Awais_Ali_and_Mohib-Afridi_Aug_6_2019.pdf

9- Ashraf Jehangir Qazi. "Pakistan's Afghanistan policy", DAWAN News, August 17, 2023, Access link: https://www.dawn.com/news/1770589/pakistans-afghanistan-policy

10- Charlotte Greenfield. "Afghanistan's Taliban sends new ambassador to Beijing", Reuters, 2023, Access link: https://www.reuters.com/world/asia-pacific/afghanistans-taliban-sends-new-ambassador-beijing-2023-12-01/

11- Chietigj Bajpaee. "India is seeking to reset relations with the Taliban. But can this rapprochement last?", Chatham House, 2025, Access link: https://www.chathamhouse.org/2025/10/india-seeking-reset-relations-taliban-can-rapprochement-last

12- Gareth Price and Chatham House. “India’s Policy towards Afghanistan”, Chatham House, August 2013, Access link: https://www.chathamhouse.org/sites/default/files/public/Research/Asia/0813pp_indiaafghanistan.pdf

13- Gaurav Kumar. “India and Afghanistan: Humanitarian Assistance as Development Partnership”, The United Service Institute of India, 2023, Access link: https://www.usiofindia.org/pdf/IndiaAndAfghanistanHumanitarianAssistanceAsDevelopmentPartnership.pdf

14- Hapejul Halsana.”India-Afghanistan Relations: Opportunities and Challenges in the Era of Taliban”, International Journal of Science and Research (IJSR), 2024, Access link: https://www.ijsr.net/getabstract.php?paperid=SR25716213445

15- Ido Gadi Raz. “Against all Expectations: Afghanistan-Pakistan Relations after the American Withdrawal”, Electronic Journal of Social and Strategic Studies, 31 May, 2023, Access link: https://www.ejsss.net.in/uploads/172/14621_pdf.pdf

16- Larry Hanauer and Peter Chalk. “India’s and Pakistan’s Strategies in Afghanistan: Implications for the United States and the Region”, RAND Corporation, 2012, Access link: https://www.jstor.org/stable/10.7249/j.ctt1q6105.10

17- M. Azim Wardak. “Infrastructure Connectivity in Afghanistan”, Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan, 2017.

18- Maliha Zeba Khan. “Pakistan’s Foreign Policy Towards Afghanistan since Operation Freedom Sentinel: An Overview”, ResearchGate, March/ 2020, Access link: https://www.researchgate.net/publication/339736934_pakistan's_foreign_policy_towards_afghanistan_since_operation_freedom_sentinel_an_overview

19- Ministry of External Affairs Government of India. “India’s humanitarian assistance to Afghanistan”, 2022, Access link: https://www.mea.gov.in/press-releases.htm?dtl/35381/Indias+humanitarian+assistance+to+Afghanistan

20- Ministry of External Affairs Government of India. “Visit of Minister of Industry and Commerce of Afghanistan to India”, 2025, Access link: https://www.mea.gov.in/press-releases.htm?dtl/40335/Visit_of_Minister_of_Industry_and_Commerce_of_Afghanistan_to_India

21- Nayanima Basu. “India reopens embassy in Kabul, sends ‘technical team’ with relief material for Afghanistan”, The Print, 2022, Access link: https://theprint.in/diplomacy/india-reopens-embassy-in-kabul-sends-technical-team-with-relief-material-for-afghanistan/1009400/

22- Neha Manhas, Neeraj Singh Manhas and Hari Yadav G. "Shifting Power Dynamics in South Asia: The Geopolitical Impact of China's CPEC on Regional Rivalries", Discover Global Society, 2025, Access link: https://link.springer.com/content/pdf/10.1007/s44282-025-00227-z.pdf

23- Nilofar Sakhi. "Regional Security Complexity and Multilateral Diplomacy: A Case Study of Afghanistan and its Regional Neighbors", International Journal of Security Studies & Practice, 2023, Access link: https://ijssp.ungjournals.org/articles/24/files/6453ee74944f9.pdf

24- Raghav Sharma, India & Afghanistan: Charting the Future, Institute of Peace and Conflict Studies, 2009, Access link: http://www.jstor.com/stable/resrep09279

25- Ravi Shankar Raj and Simant Shankar Bharti. "India's 'Wait and Watch' Diplomacy: Redefining Regional Engagement in South Asia", Institute for Security and Development Policy, May 26, 2025, Access link: https://www.isdp.eu/wp-content/uploads/2025/05/Brief-Raj-Bharti-May-26-2025.pdf

26- Riaz Khan. "Afghanistan says it has killed 58 Pakistani soldiers in overnight border operations", Independent, 2025, Access link: https://www.independent.co.uk/news/kabul-afghanistan-peshawar-pakistani-zabihullah-mujahid-b2843867.html

27- Roman Muzalevsky. "REGIONAL CONNECTIVITY FRAMEWORK AND PERFORMANCE OF LOCAL ECONOMIES", Strategic Studies Institute, US Army War College, 2014, Access link: http://www.jstor.com/stable/resrep11955.7

28- Sripathi Narayanan. "Pakistan & Afghanistan: Understanding Islamabad's Policies and Strategies", Institute of Peace and Conflict Studies (IPCS) Special Report, 2010, Access link: http://www.jstor.com/stable/resrep09376

29- Sujan R.Chinoy. "The Policy of Zero Tolerance Towards Terrorism", DEC 2020, Dr. Syama Prasad Mookerjee Research Foundation, Access link: Indias-Policy-of-Zero-Tolerance-Towards-Terrorism.pdf

30- The Economic Times. "China eyes Afghanistan's lithium reserves, offers to invest USD 10 billion", 2023, Access link: https://economictimes.indiatimes.com/news/international/world-news/china-eyes-afghanistans-lithium-reserves-offers-to-invest-usd-10%20billion/articleshow/99521732.cms?utm_source=contentofinterest&utm_medium=text&utm_campaign=cppst

31- The Hindu. "Afghan Minister Azizi's visit was very successful and productive: MEA", 2025, Access link: https://www.thehindu.com/news/national/afghan-minister-azizis-visit-was-very-successful-and-productive-mea/article70327595.ece

32- Vito Morisco. "From Rebel Governance to Institutionalization? Prospects for the Taliban and Afghanistan", Austrian Institute for International Affairs, July 2023, Access link: https://www.ssoar.info/ssoar/bitstream/handle/document/90184/ssoar-2023-morisco-From_Rebel_Governance_to_Institutionalization.pdf?sequence=1&isAllowed=y&lnkname=ssoar-2023-morisco-From_Rebel_Governance_to_Institutionalization.pdf

۳۳- معصوم جان معصومي. «د اسلامي امارت بیا ځلي واک ته د رسېدو سره د افغانستان پر وړاندې د هند ډیپلوماتیک تعامل»، سیمه ییز مطالعات مجله، ٦٨-٦٩ گڼه، ۱۴۰۲ کال.